# هوپو تعليمي کيسی

## هغه زمری چې خپله ځيره يې په اوبو کې ولیده

## کاغذي پاکټونو نانځکه





په لاس د خلتی/ پاکټ راکاږلو سره، د نانځکې خوله وخوځوئ.

**مواد چې اړتيا به ورته ولرئ:**
غرمی ډوډئ اندازه کاغذي پاکټ، رنګه پنسلونه، کرايون (د موم رنګی)، مارکر، ځلیبش، نښلوونکي خپروونکی، رنګه جوړښتي کاغذ یا کارتونه، سکاش ټيپ، کيچی، سټيپلر، د ميزونو لپاره اخبار.
**اختياري:** کاغذي دستمال، راتاوونکی کاغذ، د سودا پخوانئ خلتی، پايپونو پاکوونکي، تاوونکی، مری (مشکنۍ)، تڼۍ، د ټوټو چنډی، د ویښتو لپاره تارونه، پلاستيکي سترګی، او نور





۱. د پاکټ (خولې بندوونکي) رپاندي پوښ په اندازه کارت یا جوړښتي پاڼه راواخلئ، د زمری مخ پاسنئ برخه رسامي او رنګ کړئ. له سپين کاغذ دوه وربوز دايرې پرې کړئ. د وربوز دايرې پر مخ ځلیبش کړئ او له تور جوړښتي کاغذ جوړه پوزه يې ځلیبش کړئ. سترګی رسامي يا له رنګه کاغذ يې جوړ او ځلیبش کړئ. د پوزی کرښې د سترګو له څوکی د پوزې تر څوکی رسم کړئ. پريږدئ چې زمري مخ وچ شي مخکې لدې چې پرې يې کړئ. که غواړئ، بريتونه رسم یا د پايپ پاکوونکي ټوټي یا د تار کوچنئ ټوټی د بريتونو لپاره ځلیبش کړئ.

۲. د ورږه لپاره: د کمرنګه نصواري یا طلايي کارت یا پيړ جوړښتي کاغذ د پاکټ له رپانده څنډی څخه يو نيم ځل لوی، د پورته ورږه لپاره پرې کړئ. پورتنی ورږه د پاکټ پر رپانده کاغذ ځلیبش کړئ (دا بايد د رپانده کاغذ دپاسه او څنډو وغځيږي، خو بايد له بيخ سره يې برابر شوی وي). د هماغه کاغذ پر کارولو د خلتی/ پاکټ پراخوالي په اندازه خو نيمه اوږد، لاندينی ورږ پرې کړئ. لاندينی ورږ د رپانده کاغذ لاندی ځلیبش کړئ. له سپين کاغذ لاندينئ ژامه پرې او سره ژبه پر ژامه ځلیبش کړئ. ژامه/ ژبه لاندينی ورږ دپاسه د پاکټ قات سره ځلیبش کړئ.

۳. د زمري مخ، د پاسني ورږ دپاسه چې د پاکټ پر رپانده کاغذ مو ځلیبش کړی وو، ځلیبش کړئ. غوږونه پرې او ځلیبش کړئ. د پنجو، لکئ او لکئ کوڅئ/ څرئ له جوړښتي کاغذ، نور نصواري خلتی یا سپک کارت کاغذ څخه پرې کړئ. پنجی د پاکټ لاندينئ پرانيستنی دننه رابرټيپ یا ځلیبش کړئ. لکئ د خلتی/ پاکټ شاته ځلیبش یا سټيپلر کړئ. (پام مو وي چې خلته/ پاکټ بند نه کړئ). څرنګه چې زمری کمرنګه نصواري وي نو تاسې د خلتی/ پاکټ طبعي نصواري رنګ کارولی او د کرايون، رنګونو یا مارکرو پر کارولو پنجی، لکئ، خيټه او نور ورډېرولی شئ. د زمري لکئ څوکې لپاره، تيز نصواري کاغذ یا مالوچو ټوټه ځلیبش کړئ.

**د نانځکو ډرامی/ تياتر نظرونه/ مفکوری**

- پر ميز سرميزي یا ټوټه واچوئ او زده کوونکي د ميز لاندې کښيني او خپلې نانځکې د ټوټې له لاندې راباسي او غږيږي.
- (د برقي سامانونو کارتنونو په څېر) لوی کارتن مخ کې څلور کنجه کړکئ ورکړئ، او "سټيج" دروازه شاته ورکړئ. يو یا دوه زده کوونکي په کارتن کې کينوئ تر څو خپله ډرامه/ تياتر وړاندې کړي.
- يو بل ته مخامخ چوکئ کيږدئ، او له زده کوونکو وغواړئ مخامخ کيني او خپلې ډرامی اجرا کړي. دا نانځکی د ډرامی په مرکز یا زيرمه ځای کې وساتئ تر څو هر وخت چې اړتيا وي، لاسرسی ورته وشي.

د پرپرکي پاکټي نانځکه په لپاره، راتلونکی پاڼه وګورئ.

*هغه زمری چې خپله ځيره يې په اوبو کې ولیده د ادريس شاه ليکنه، د انګريد روډريګويز د ۱۹۹۸ کال چاپ حقوق*

# د پرپرکي پاکټي نانځکه



۱. د پرپرکي مخ له خړ جوړښتي کاغذ یا بوړو کاغذ څخه، په هماغه طریقه کومه چې مو د زمري لپاره وکاروله، رسامي یا پرې کړئ. د سترګی ټوټی غوڅې او پرې ښلیښ کړئ یا سترګې پرې رسامي کړئ. اوږده باڼه مو هیر نه شي، چې رسامي یا له تور کاغذه پرې او ښلیښیدای شي. پوزه رسامي او د غومبوري پر ټوټو یې ښلیښ یا د کرایون او رنګ پر کارولو یې رنګ کړئ.

دوه پایپونو پاکوونکي (هر رنګ چې وي) راواخلئ او قات یې کړئ چې د انتن په توګه ښکاره او د مخ دپاسه یې ښلیښ کړئ. **اختیاري:** د سترګو دپاسه دوه سوري وکړئ، د پایپ پاکوونکو دوه سره ورننباسئ، او د مخ ټوټی شاته یې د رابرټیپ پر کارولو خوندي کړئ. پرېږدئ چې مخ وچ شي پداسې حال کې تاسې د نانځکی نوری برخی برابروئ.



۲. د خلتی/ پاکټ اوږدوالي او پراخوالي په اندازه خړ رنګه جوړښتي کاغذ یا بوړو کاغذ غوڅ کړئ. د تورو کرښو پر کارولو تنه رسمه کړئ چې هره برخه وښیي. تنه پرې کړئ. اوس یې رسامي او شپږی پښی پرې او د تنی له برخو سره یې ښلیښ کړئ.
**اختیاري:** د پښو په اندازه شپږ پایپونو پاکوونکي پرې او تنی پورې یې ونښلوئ (د ضمیمی لومړي ګام اختیارونه وګورئ). له وچیدو وروسته، له پښو سره تنه د پاکټ مخی ته د پاکټ/ خلتی رپانده کاغذ لاندی ښلیښ کړئ (پام مو وي چې خلته بنده یا رپانده کاغذ لاندی ښلیښ یا سټیپلر نه کړئ). د رپانده کاغذ لاندی په قات کې سره ژبه پرې او ښلیښ کړئ.



۳. د وزرو لپاره، تاسې بوړو کاغذ دوه تیز رنګ شوو پاڼو یا پیړ سپین کاغذ ته اړتیا لرئ چې رنګ یې کړئ. د کاغذ دا پاڼې باید له پاکټ/ خلتی څخه یونیم ځله اوږد او پراخه وي. پر یوه پاڼه د وزرو شکل رسم، دواړه پاڼه یوځای سنجاق او دواړه وزری په یوه وخت کې پرې کړئ. یوه وزره واړوئ تر څو کیڼه او ښي وزره ولرئ. رنګه جوړښتي کاغذ، رنګ، مارکری، زرزري او نور سینګارونه پر وزرو وکاروئ. کله چې وزری وچی شي، د کاغذي پاکټ شاته یې ښلیښ یا سټیپلر کړئ، پام مو وي چې خلته/ پاکټ بنده ښلیښ یا سټیپلر نه کړئ.

۴. د پاکټ/ خلتی رپانده کاغذ دپاسه د پرپرکي مخ ښلیښ کړئ.



له استعمال وړاندی نانځکی وچیدو ته پرېږدئ. ځیني وخت د ټینګولو او ثبات لپاره لږ إضافي ښلیښو یا سټپلر سنجاق ته اړتیا وي. **ښه وخت ولرئ!**

**نور لوبغاړي:** د کیسې له نورو تورو رسم کړئ. عکسونه د کارتونو پر مخ ښلیښ او پرې یې کړئ. ټوټې د کاغذي خلتو رپانده کاغذ دپاسه ښلیښ کړئ.

**لښتو نانځکی:** رسامي، سینګار، او ځناور پرې کړئ. پنسلونه یا لښتی د پری شویو شاته ټیپ او حرکت لپاره یې وخوځوئ.